# ډېرې ښځې د محمد ﷺ کورنۍ ته راغلې او د خپلو خاوندانو څخه شکايت کوي، دا کسان ستاسو له غوره خلکو څخه نه دي

له إِيَاسِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي ذُبَابٍ رَضيَ اللهُ عنه څخه روايت دی وايې چې رسول الله ﷺ فرمايلي: «د الله وينځې مه وهئ». بيا عمر رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل چې: ښځې پر خپلو مېړونو زړورې شوې دي، نو هغه د وهلو اجازه ورکړه، خو وروسته ډېرى ښځې د رسول الله ﷺ کورنۍ ته راغلې او له خپلو مېړونو يې شکايت وکړ، نو نبي ﷺ وفرمايل: «ډېرې ښځې د محمد ﷺ کورنۍ ته راغلې او د خپلو خاوندانو څخه شکايت کوي، دا کسان ستاسو له غوره خلکو څخه نه دي».

[صحيح دی] [ابو داود او ابن ماجه روايت کړی دی]

نبي ﷺ د ښځو له وهلو منع وکړه، نو اميرالمؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه راغی او ويې ويل: ای د الله رسوله! ښځې پر خپلو مېړونو زړورې شوې دي او اخلاق يې خراب شوي دي. نو رسول الله ﷺ د لامل د شتون پر مهال د ښځو لږ وهلو ته اجازه ورکړه، د بېلګې په توګه که چېرته د مېړه د حق له ادا کولو څخه سر غړاوی وکړي، او يا دې ته ورته حالتونه. بيا ډېرې ښځې د نبي ﷺ د مېرمنو خواته راغلې او شکايت يې وکړ چې مېړونه يې سختې وهي او له دې اجازې ناوړه ګټه اخلي، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه سړي چې خپلې ښځې سختې وهي، ستاسو له غوره خلکو څخه نه دي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5821